


له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداره
اداره آمـــادگی مبارزه با حـــوادث

۴ ګڼه

# د پېښو د مدیریت

## مجله

- د پسرلي موسم ستراتیژیک پیغام
- ستراتیژیکي تحلیلونه او څېړنې
- د ادارې لاسته راوړنې او د عامه پوهاوي لوړول


وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَآ أَحْيَا ٱلنَّاسَ جَمِيعًا
او څوک چې د یوه انسان ژوند وژغوري،
نو داسې ده لکه د ټولو خلکو ژوند چې ژغورلی وي.



## د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی ورعاه د ۱۷ ګڼې فرمان د ټولنې د اصلاح، د ناسمو او ناوړه رواجونو د مخنيوي او د مړو د تعزيت اړوند چارو د تنظيم په موخه صادر شوی.

د مړي د کورنۍ له خوا خلکو ته خوراک برابرول مکروه دي، ځکه چې له دې سره يې مصيبت زياتيږي او بل دا چې د جاهليت د زمانې له خلکو سره مشابهت راځي.رواجي خيراتونه د ځان مشهورو کولو او رياء لپاره دي، د الله تعالی لپاره يې نه کوي، له دې امله بايد ترې ډډه وشي.
رواجي خيرات که مباح هم شي له دې امله چې خلکو د واجب والي مرتبې ته رسولي، مکروه او ترک يې ضروري دی.

**پورته ذکر شويو شرعي دلايلو او همداراز نورو ګڼو ټولنيزو، شرعي او اقتصادي زيانمنوونکو رواجونو ته په کتلو سره په لاندې ټکو باندې عمل کول ضروري دي:**

- د مړي د کور له لوري د لويو د بدرګې او ملمستيا په څير د رواج له مخې (په لومړي،دريېمه، اوومه او څلوېښتمه ورځ) طعام برابرول منع دي.
- صدقه به د ريا، شهرت، سيالۍ، رواج او د خلکو د پيغور له امله نه وي.
- صدقه او خيرات به واجب او ضروري نه ګڼل کيږي، که چا ونه کړه هغه ته به په بده سترګه نه کتل کيږي.
- صدقه او خيرات يوازي بالغ او عاقل وارثان له خپل مال څخه په خپله خوښه کولای شي، د يتيم او غير حاضر وارث مال به پکې نه مصرفيږي.
- د يتيم له ماله څخه په مړي پسې خيرات او صدقه کول که څه هم د يتيم په اجازه وي، منع دي، هغه څوک چې د يتيم په مال کې دا ډول تصرف وکړي، ضمان پرې لازم دی.
- په ځينو سميو کې د رواج له مخې خلګ په لومړي اخترکي د مړي کور ته د تعزيت لپاره ورځي داهم منع دي.
- په ځيني ځايونو کې رواج دی چې د ښځې تر وفات وروسته ضرور بايد د پلرنۍ(هديرې) ته انتقال کړل شي او نه انتقال يې د ټول قوم لپاره پيغور ګڼل کيږي، چې دا کوم شرعي حيثيت نه لري، بلکې غوره دا ده چې د همدې خاوند او اولادونو د خوښۍ په هديره کې دفن کړل شي.
- د ګاونډيانو او خپلوانو له لوري د مړي کور ته طعام برابرول مستحب عمل دی.
- کوم شخص چې فديېګرځوي، او فقير ته يې ورکوي، بايد لاسونه ترې لرې کړي او له هغه څخه په بېرته اخيستلو کې تلوار ونه کړي.
- د فديو ګرځونکی به فقير ته داسې الفاظ وايي: دا د فلانکی چې د فلانکي زوی دی د لمونځ، روژې، قسم يا ... فديه ده، قبولي يې کړه، هغه به وايي: قبولي مې کړه، زه يې مالک شوم، بيا به يې بېرته ياد شخص ته هبه کړي.
- حيله کوونکی به له دوړې وروسته د فقير له زړه د بدوالي څخه ځان ساتي، که مال د حيله کوونکي وي دومره مال به په صدقه کې ورکوي چې د فقير زړه پرې خوشحاله شي.
- که د حج په مياشتو کې حيله کيږي، دا دې په نظر کې ونيسي چې دومره پيسې يو ځای فقير ته ورنه کړي چې حج ورباندې فرض شي.
- که مړي وصيت نه وي کړی، ولی يې له مال څخه فقير ته د وارثانو په رضا هغه مهال څه مال ورکولای شي چې په وارثانو کې يې غائب او صغير نه وي او که يې وصيت کړی وي، نو بيا د ميت د مال له دريېمې برخې څخه مال ورکولای شي، که نه هم په وارثانو کې غائب يا يتيم وي.

**امير المؤمنين شيخ القرآن والحديث مولوي**

هبة الله اخندزاده صاحب حفظه الله تعالی

# د پېښو د مدیریت

# مجـــــــــله


| | |
|---|---|
| د امتیاز خاوند: | له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداره |
| خپرونکې: | د اطلاعاتو او نشراتو ریاست |
| مسئول مدیر: | عبدالسمیع ضربي |
| کتنپلاوی: | میوند زرمتی، حسیب الله شیخاني |
| سموونکی: | قاري تاج محمد همت |
| ډیزاینر: | تبارک الله طاهري |
| ایکس پاڼه: | له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداره |
| ویب پاڼه: | andma.gov.af |
| د اړیکې شمېره: | ۰۲۰۲۱۰۴۹۲۶ |
| پته: | شهرنو- شهرآرا برج - له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداره |

# په دې ګڼه کې:


له پېښو سره د مبارزې آمادګی اداري د لوی رئیس پیغام | ۱
سرمقاله | ۲
تحلیل | ۳-۱۳
لاسته راوړنې | ۱۴-۱۹
راپورونه | ۲۰-۲۸
عامه پوهاوی او روزنه | ۲۹-۳۴
افغانستان عاری از ماین؛ چالش‌ها و راهکارها | ۳۵-۳۷

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې د لوی رئيس پيغام

د «پېښو مديريت» مجلې د خپرېدو په مناسبت، د پسرلي موسم د پېښو او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې د ترسره شويو فعاليتونو په اړه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې د لوی رئيس پيغام

**بسم الله الرحمن الرحيم**

د لوی او مهربان الله جل جلاله بې‌پايه حمد او ثنا ادا کوم، هغه ذات چې باران يې د رحمت، آبادۍ او ژوند وسيله ګرځولې ده. بې له شکه، د بارانونو وربدل د اوبو د سرچينو د پياوړي کولو، د کرنيزو حاصلاتو د ودې او د چاپېريال د ساتنې لپاره د الهي نعمتونو له سترو نعمتونو څخه ګڼل کېږي؛ خو د دې ستر نعمت ترڅنګ، کله چې بارانونه سخت او دوامداره شي، د سېلابونو، د ځمکې ښويېدنې، د زيربناوو ويجاړېدو او نورو قدرتي پېښو رامنځته کېدل هم له هغو ننګونو څخه دي چې هر کال زموږ د زرګونو هېوادوالو ژوند اغېزمنوي او د پام وړ د ځان او مال زيانونه اړوي.
له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې، د خپلو قانوني او ايماني مسؤوليتونو په درک سره، تل هڅه کړې ده چې د اغېزناکو تدابيرو، منظمو پروګرامونو جوړونې او له امارتي ادارو، ملي او نړيوالو مؤسسو او د ولس په همکارۍ د قدرتي پېښو پر وړاندې د زيانمنتيا کچه راټيټه او زيانمنو شويو ته د چټکې او اغېزناکې رسېدنې زمينه برابره کړي.
د ۱۴۰۵ لمريز کال د لومړي ربع په ترڅ کې، د پسرلي له موسم او د قدرتي پېښو د رامنځته کېدو له زيات احتمال سره هم مهاله، دې ادارې د خطرونو د مديريت او پېښو ته د رسېدنې په برخه کې پراخ پروګرامونه او فعاليتونه ترسره کړل. له مهمو فعاليتونو څخه يې د کوچنيو وقايوي پروژو پلي کول و، چې پکې د استنادي او ګبيوني ديوالونو جوړول، د سړکونو، پلونو او پلچکونو رغول، د اوبو د کانالونو، خوړونو او نورو حفاظتي تأسيساتو پاکول شامل دي. دغو پروژو د سېلابونو له امله د رامنځته کېدونکو خطرونو په کمولو، د عامه تأسيساتو په ساتنه او د هېوادوالو د ځان او مال په خونديتوب کې مهم رول لوبولی دی.
همدارنګه، د ګډو همکاريو د پياوړتيا په موخه، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداره وتوانېده چې يو شمېر همکارې مؤسسې جذب او د پېښو د مديريت، د قدرتي پېښو د خطرونو د کمولو، د بشردوستانه فعاليتونو د همغږۍ او په ماينونو او ناچاودو توکو د ککړو سيمو د پاکولو په برخه کې د همکاريو هوکړه ليکونه لاسليک کړي. دغو همکاريو د اغېزناکو پروګرامونو د پلي کېدو او د خلکو اړتياوو ته د غوره ځواب وينې زمينه برابره کړې ده.
له بلې خوا، د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې زيانمنو او ارمنو کورنيو ته د بېړنيو بشردوستانه مرستو وېش د پسرلي په موسم کې د دې ادارې له اساسي لومړيتوبونو څخه و. دغه مرستې د شفافيت او عدالت د اصل په پام کې نيولو سره، د تخنيکي سروېګانو پر بنسټ او له اړوندو ادارو سره په همغږۍ مستحقو کسانو ته وېشل شوې، ترڅو د قدرتي پېښو له امله رامنځته شوې ستونزې تر يوه بريده راکمې شي.
د خطرونو د کمولو په برخه کې، په ماينونو او ناچاودو توکو د ککړو سيمو د پاکولو پروګرامونه، خلکو ته د عامه پوهاوي ورکول، په ځانګړې توګه په زيانمنو سيمو کې، او همدارنګه د کابل ولايت او د هېواد په نورو ولايتونو کې د ښويېدو له ګواښ سره مخ د ډېرو سروې او وېجاړول، د دې ادارې له نورو مهمو فعاليتونو څخه دي. د دغو پروګرامونو پلي کول د هېوادوالو د ژوند د خونديتوب او د ثانوي پېښو د مخنيوي لپاره يو اغېزناک ګام بلل کېږي.
موږ باور لرو چې د پېښو اغېزناک مديريت يوازې د امارتي ادارو، همکارو مؤسسو، رسنيو او سيمه‌ييزو مشرانو ترمنځ د همکارۍ او همغږۍ او د خلکو د فعال ګډون له لارې شونی دی. له همدې امله، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداره به هڅه وکړي چې د تېرې تجربې څخه په ګټې اخيستنې، د تخنيکي ظرفيتونو د پياوړتيا، د وقايوي پروګرامونو د پراختيا، د پېښو د مخکنۍ خبرتيا د سيستمونو د پراختيا او د عامه پوهاوي د کچې د لوړولو له لارې، د خطرونو د کمولو او د هېوادوالو د ځان او مال د ساتنې په برخه کې لا اغېزناک ګامونه پورته کړي.
په پای کې، د ادارې له ټولو ژمنو کارکوونکو، ولايتي مسؤولينو، ملي او نړيوالو شريکانو، همکارو مؤسسو، مرستندويه ځواکونو او ټولو هغو هېوادوالو څخه چې د پېښو د مديريت او د خطرونو د کمولو په برخه کې يې ارزښتناک رول لوبولی، د زړه له کومې مننه او قدرداني کوم.

والسلام عليکم و رحمة الله و برکاته

# سرمقاله

## مدیریت حوادث مسئولیت مشترک همه اقشار اجتماعی است

افغانستان به دلیل موقعیت جغرافیایی و شرایط اقلیمی خود، همواره در معرض انواع حوادث طبیعی و غیرطبیعی از جمله سیلاب ها، زلزله‌ها، لغزش زمین، برف‌کوچ‌ها، خشک‌سالی و سایر وقایع ناگوار قرار داشته است. این حوادث علاوه بر خسارات مالی، زندگی هزاران خانواده را متأثر ساخته و روند توسعه و رفاه اجتماعی را با چالش‌های جدی مواجه کرده است.

امروزه مدیریت حوادث تنها به معنای پاسخ‌دهی پس از وقوع حادثه نیست، بلکه مجموعه‌ای از اقدامات هماهنگ در عرصه‌های وقایه، آمادگی، کاهش خطرات، پاسخ مؤثر و بازسازی را در بر می‌گیرد. هر اندازه سرمایه‌گذاری بیشتری در بخش‌های تطبیق پروژه‌های وقایوی، آگاهی‌دهی، آموزش و آمادگی صورت گیرد، به همان میزان از تلفات انسانی و خسارات اقتصادی کاسته خواهد شد.

اداره آمادگی مبارزه با حوادث متعهد است تا با استفاده از ظرفیت‌های نهادهای دولتی و غیردولتی، حمایت شرکای بین‌المللی و مشارکت فعال مردم، زمینه کاهش خطرات ناشی از حوادث را فراهم سازد. در این مسیر، فرهنگ‌سازی و ارتقای سطح آگاهی عامه از اهمیت ویژه‌ای برخوردار است؛ زیرا جامعه آگاه و آماده، نخستین سد در برابر پیامدهای ناگوار حوادث محسوب می‌شود.

مجله «مدیریت حوادث» با هدف انعکاس فعالیت‌ها، دستاوردها، تجارب، تحلیل‌ها، پژوهش‌ها و برنامه‌های مرتبط با مدیریت حوادث منتشر می‌گردد تا پلی میان متخصصان، مسئولان، نهادهای همکار و شهروندان عزیز باشد. امیدواریم این نشریه بتواند در گسترش دانش، تبادل تجارب و تقویت فرهنگ آمادگی و تاب‌آوری در برابر حوادث نقش مؤثری ایفا نماید.

باور داریم که کاهش خطرات حوادث و حفاظت از جان و مال مردم، مسئولیتی مشترک است و تحقق آن نیازمند همکاری همه‌جانبه دولت، نهادهای امدادرسان، رسانه‌ها و آحاد مردم می‌باشد. با همدلی، برنامه‌ریزی و آمادگی می‌توانیم جامعه‌ای ایمن‌تر و آینده‌ای مطمئن‌تر برای نسل‌های آینده رقم بزنیم.

هیئت تحریر مجله مدیریت حوادث



تحـــــلیل

# چرا زلزله‌های اخیر افغانستان ویرانگرتر به نظر می‌رسند؟

## تحلیل علمی بر پایه داده‌های لرزه‌ای، زمین‌ساختی و آسیب‌پذیری


**نویسنده:** انجنیر سید سروالدین سیفی

کارشناس زلزله، ریاست وقایه وکاهش خطر، اداره آمادگی مبارزه با حوادث (ANDMA)

### چکیده

افغانستان در کمربند فعال لرزه‌ای آلپ-هیمالیا قرار دارد و همواره در معرض زمین‌لرزه‌های متعدد بوده است. در سال‌های اخیر، وقوع زلزله‌های مخرب در مناطق هرات، پکتیکا ، بدخشان، کنر و سمنگان موجب افزایش توجه عمومی و شکل‌گیری این برداشت شده است که فراوانی یا شدت زلزله‌های ویرانگر افزایش یافته است. با این حال، تحلیل داده‌های لرزه‌ای سازمان زمین‌شناسی ایالات متحده (USGS) نشان می‌دهد که شواهد کافی برای افزایش قطعی تعداد زلزله‌ها در سطح ملی وجود ندارد. آنچه به‌وضوح تغییر یافته، افزایش خسارات انسانی و اقتصادی ناشی از زلزله‌ها است که حاصل ترکیب عوامل زمین‌ساختی، نوع رخدادهای لرزه‌ای، آسیب‌پذیری سازه‌ها، افزایش جمعیت و بهبود ثبت و گزارش‌دهی می‌باشد

### مقدمه




افغانستان در محل برخورد صفحه تکتونیکی هند و اوراسیا قرار دارد؛ یکی از فعال‌ترین نواحی زمین ساختی جهان. این موقعیت باعث شکل‌گیری شبکه ای از گسل‌های فعال و وقوع مکرر زلزله در بخش‌های مختلف کشور شده است. در کنار این واقعیت زمین شناختی، طی دهه های اخیر زمین‌لرزه‌های متعددی در کشور رخ داده است که برخی از آن‌ها خسارات قابل توجهی به‌جا گذاشته‌اند. این رویدادها توجه عمومی و علمی را نسبت به ماهیت تغییرات لرزه‌ای در کشور افزایش داده‌اند. از دیدگاه لرزه‌شناسی، تحلیل چنین پدیده‌ای نیازمند تفکیک میان ویژگی های زمین‌ساختی ثابت و تغییرات ناشی از عوامل انسانی و ثبت داده‌ها است. بر همین اساس، این تحلیل به بررسی علمی عوامل مؤثر بر افزایش خسارات زلزله‌ها در افغانستان می‌پردازد.




## وضعیت زمین‌ساختی و لرزه‌خیزی افغانستان

بر اساس داده‌های USGS، افغانستان تحت تأثیر چندین سیستم گسلی و ساختار تکتونیکی فعال از جمله گسل چمن، سیستم گسلی هریرود، ساختارهای درواز و نواحی لرزه‌خیز بدخشا ن قرار دارد. علاوه بر این، نواحی، شرق افغانستان به‌ویژه زو ن لرزه‌خیز کنر–ننگرهار–لغمان–نورستان در چارچوب سیستم تکتونیکی هندوکش–هیمالیا قرار داشته و تحت تأثیر ساختارهای فشاری و رانده فعال هستند. زو ن هندوکش یکی از معدود مناطق جهان است که در آن زلزله‌ های میان‌عمق (حدود 70 تا 300 کیلومتر) به طور منظم رخ می‌دهد. این شرایط نشان می‌دهد که افغانستان ذاتاً یک کشور با خطر لرزه‌ای بالا است، اما این ویژگی به‌تنهایی بیانگر تغییر زمانی در فراوانی زلزله‌ ها نیست.

## روند زلزله‌ ها: افزایش واقعی یا افزایش ثبت؟ .

تحلیل کاتالوگ‌های لرزه‌ای جهانی (USGS/ISC) نشان می‌دهد:



شواهد کافی برای افزایش یکنواخت و قطعی تعداد زلزله‌ ها در سطح افغانستان وجود ندارد.




افزایش ظاهری رویدادها عمدتاً ناشی از توسعه شبکه‌های لرزه‌نگاری جهانی وافزایش حساسیت بیشتر ابزارهای ثبت است.



بهبود ارتباطات و رسانه‌های دیجیتال موجب افزایش سرعت انتشار اطلاعات و در نتیجه افزایش ادراک عمومی از فراوانی زلزله‌ ها شده است.


بنابراین باید میان «افزایش واقعی لرزه‌خیزی» و «افزایش مشاهده‌پذیری» تفاوت قائل شد.

# عوامل اصلی افزایش خسارات زلزله‌ها




## زلزله‌های کم‌عمق

زلزله‌های کم‌عمق انرژی لرزه‌ای را با تضعیف کمتر به سطح زمین منتقل می‌کنند و معمولاً شدت تخریب بالاتری ایجاد می‌نمایند. بخشی از زلزله‌های اخیر افغانستان از این نوع بوده‌اند.



## آسیب‌پذیری سازه‌ها

بخش عمده ساختمان‌ها در افغانستان با مصالح بنایی غیرمسلح (خشت خام، سنگ‌گل و چوب) ساخته شده‌اند. این نوع ساختمانها مقاومت بسیار پائین در برابر نیروهای جانبی زلزله دارند و در برابر لرزش‌های متوسط نیز دچار شکست ناگهانی و تخریب گسترده می شوند. این عامل مهم‌ترین مؤلفه در تلفات انسانی ناشی از زلزله در افغانستان محسوب می شود.



## افزایش مواجهه (Exposure)

افزایش جمعیت، رشد نامنظم شهری و توسعه سکونتگاه‌ها در مناطق پرخطر باعث شده است تعداد افراد و دارایی ها در معرض خطر افزایش یابد. در نتیجه، حتی وقوع زلزله مشابه در زمان های مختلف می تواند پیامد های کاملا متفاوتی ایجاد کند.



## بهبود ثبت و اطلاع‌رسانی


بر اساس گزارش‌های USGS، از دهه‌های اخیر به بعد شبکه‌های لرزه‌نگاری جهانی توانایی ثبت دقیق حتی زلزله‌های کوچک را پیدا کرده‌اند. این امر باعث افزایش داده‌های ثبت‌شده و در نتیجه افزایش ادراک عمومی از فراوانی زلزله‌ها شده است.

## نمونه زلزله‌های مهم افغانستان (۲۰۰۲ - ۲۰۲۵)

| سال | منطقه | بزرگی | ویژگی |
|---|---|---|---|
| ۲۰۰۲ | نهرین | ۶،۱ | تخریب شدید |
| ۲۰۱۵ | هندوکش (جرم بدخشان) | ۷،۵ | زلزله میان عمق |
| ۲۰۲۲ | پکتیا | ۵،۹ | زلزله کم عمق مخرب |
| ۲۰۲۳ | هرات | ۶،۳ | خسارات شدید سطحی |
| ۲۰۲۵ | شرق افغانستان | ۶،۰ | زلزله کم عمق باخسارات گسترده |
| ۲۰۲۵ | سمنگان - بلخ | ۶،۳ | زلزله کم عمق باتلفات پائین و تخریب قابل ملاحظه |

### مدل علمی ریسک لرزه ای


در تحلیل های استاندارد، ریسک لرزه ای به صورت زیر تعریف گردیده: Risk = Hazard × Exposure × Vulnerability





اگرچه Hazard (خطر طبیعی) نسبتاً ثابت و ذاتی است، اما Exposure و Vulnerability در دهه‌های اخیر افزایش یافته اند. این ترکیب نشان می‌دهد که افزایش خسارات ناشی از افزایش ریسک است ، نه لزوماً افزایش تعداد زلزله ها.

## نتیجه گیری

شواهد علمی موجود نشان نمی‌دهد که تعداد زلزله‌های در سطح ملی افزایش یافته باشد. آنچه به‌وضوح مشاهده می‌شود، افزایش خسارات و پیامدهای اجتماعی زلزله ها است.




بنابراین مسئله اصلی در افغانستان «افزایش زلزله‌ها» نیست، بلکه «افزایش ریسک لرزه‌ای» است. کاهش این ریسک نیازمند کاهش آسیب‌پذیری، بهبود ساخت‌وساز مقاوم و ارتقای نظام مدیریت خطر می‌باشد.
در کنار اقدامات فنی، تقویت مدیریت دانش و ارتباط خطر با جامعه (Risk Communication) نیز نقش اساسی در کاهش تلفات انسانی دارد. آگاهی‌دهی هدفمند در خصوص رفتارهای ایمن هنگام زلزله و اقدامات قبل و بعد از وقوع آن، به‌عنوان بخشی از نظام مدیریت ریسک، می‌تواند به‌طور مستقیم در کاهش خسارات انسانی مؤثر واقع شود.



# د ENSO (ال‌نینو-لا نینیا) احتمالي تحول او د افغانستان د وچکالۍ او اورښت پر رژیم یې اغېزې (۲۰۲۶-۲۰۲۷)

## لنډیز (Abstract)


د آرام سمندر د سطحې د تودوخې نوسانات د نړیوالو بادونو د جریانونو په جوړښت مستقیم اغیز لري. دا نوسانات په ځینو سیمو کې د اوبو د جریان کمښت او وچکالۍ سبب کېږي، او په نورو سیمو کې د باران زیاتوالی او سیلابونه رامنځته کوي. په تخنیکي ډول، که د آرام سمندر د سطحې اوبه نیمه درجه سلسیس یا تر دې زیات د اوسط نه سړې وي، دغه حالت لانینا بلل کېږي؛ که نیمه درجه یا زیات ګرمه وي، نو ایل نینو بلل کېږي. هغه حالت چې د اوسط نه لږ څه سوړ یا ګرم وي، خنثی حالت ګڼل کېږي.

په افغانستان کې د دغو پدیدو اغیز څرګند دی لانینا معمولاً د وچکالۍ سبب کېږي، په داسې حال کې چې ایل نینو د ترسالي او زیات باران او خنثی حالت د نورمال باران سره تړاو لري.

د افغانستان د اقلیم وروستي تحلیلونه او د ENSO نړیوالې وړاندوینې ښیي چې د استوایي آرام سمندر د سطحې د اوبو تودوخه د ایل نینو حالت ته داخل شوی. د نړیوالو اقلیمي ماډلونو د وروستیو وړاندوینو له مخې، تمه کېږي چې د ۱۴۰۵ کال د اوړي له لومړیو څخه د ایل نینو شرایط غالب شي او د کال تر پایه پورې دوام ومومي. د اوسنیو وړاندوینو له مخې د ۱۴۰۵ کال د اوړي په لومړیو میاشتو کې به ENSO تر ډېره د ایل نینو په مرحله کې وي، له همدې امله د افغانستان په ډېری سیمو کې د باران اندازه د نورمال کچې ته نژدې یا زیاته اټکل کېږي.

خو د ۱۴۰۵ کال د دوبي له وروستیو، خزان او ژمي څخه تر ۱۴۰۶ کال پسرلي پورې د ایل نینو د دوام احتمال ډېر لوړ ښودل شوی دی. که دغه وړاندوینې تحقق ومومي، نو امکان شته چې افغانستان د ۱۴۰۵ کال د ژمي او ۱۴۰۶ کال د پسرلي په موسم کې د نورمال په پرتله زیات اورښتونه ترلاسه کړي. دغه وضعیت کولای شي د واورو د ذخیرې، د اوبو د سرچینو د بیا رغېدو او د وچکالۍ د اغېزو د کمېدو لپاره مناسب شرایط رامنځته کړي. خو د وچکالۍ د بشپړ پای ته رسېدو په اړه پرېکنده قضاوت لا وختي دی، ځکه د دې موضوع ارزونه د راتلونکو موسمونو د اورښتونو د مقدار، جغرافیایي وېش او دوام له څرنګوالي سره تړاو لري.

له همدې امله، اوسني نړیوال اقلیمي شاخصونه د افغانستان لپاره د ۱۴۰۵/۱۴۰۶ کال په ساړه او مرطوب فصل کې د نورمال څخه د لوړو اورښتونو احتمال ښیي، خو د دې وړاندوینو وروستۍ پایلې به د راتلونکو میاشتو د اقلیمي شرایطو او د ENSO د پرمختګ له څرنګوالي سره روښانه شي.

## پېژندنه (Introduction)

د دې مطالعې موخه دا ده چې د آرام سمندر د سطحې د اوبو د تودوخې د نوساناتو (ENSO) او د Nió–3.4 شاخص پر بنسټ د لا نينيا، خنثی حالت او ال‌نينو موسمي احتمالي وړاندوينې تحليل شي. د ENSO پديدې نړيوال اقليم اغيزمنوي او په ځانګړې توګه د افغانستان د اقليم، بارانونو، زراعت او اوبو سرچينو لپاره مهمې پايلې لري. په دې راپور کې د SOI، ERSSTv5، NOAA/CPC شاخص او IRI ماډلونو معلومات کارول شوي ترڅو د ژمي، پسرلي، دوبي او خزان موسمونو لپاره د ENSO احتمالي حالتونه او د هغوی د اغيزو لنډيز وړاندې شي. دغه څېړنه د پنځه کلنې وچکالۍ د منفي تاثيراتو د کمولو او د راتلونکو مياشتو د اقليمي شرايطو د چمتووالي لپاره اړينه ده.

## د معلوماتو سرچينې او ميتودولوژي (Data & Methods)


د دې راپور د تحليل لپاره بېلابېل اقليمي او هايدروميټورولوژيکي معلومات کارول شوي دي. د Nió–3.4 شاخص د آرام سمندر د سطحې د اوبو د تودوخې د بدلون اندازه ښيي، د ERSSTv5 ارقام د تاريخي اوسطونو پراخ شوي معلومات وړاندې کوي، او د SOI شاخص د سوېلي تذبذب د فشار نوسانات معلوموي. د IRI ماډلونه د موسمي وړاندوينو لپاره کارول شوي، او د تحليل مختلف تخنيکونه په ګرافونو، شکلونو او احصايوي احتمالي محاسبو کې د ENSO احتمالي حالتونه ښيي. دغه ميتودولوژي د ژمي، پسرلي، دوبي او خزان د موسمونو لپاره د لا نينيا، خنثی حالت او ال‌نينو د پېښېدو احتمالي اغيزې دقت سره څرګندوي.



## څېړنه او ارزونه (Analysis)

نړۍ د يوه داسې کال په درشل کې ده چې د اقليمي پديدو له پلوه ډېر مهم او جنجالي بلل کېږي. ځينې اقليمي تحليلونه د ۲۰۲۶ کال لپاره د قوي يا ډېر قوي ال نينو د رامنځته کېدو احتمال مطرح کوي.
قوی ايل نينو هغه حالت ته ويل کېږي چې د آرام سمندر د سطحې د اوبو تودوخه د اوسط په پرتله له ۲ درجو سانتيګراد څخه زياته لوړه شي. د سږکال د وړاندوينو له مخې، امکان شته چې دا تودوخه تر ۳ درجو سانتيګراد پورې هم لوړه شي، چې دا به يو تاريخي او غيرعادي حالت وي.
د سمندر د تودوخې بدلونونه د ځمکې د هوا په سيستم کې ژور بدلونونه رامنځته کوي. د ځمکې اتموسفير او سمندرونه يو له بل سره نږدې تړلي سيستمونه دي، او هر بدلون په سمندر کې د هوا په جريانونو مستقيم اغېز لري.
د El Niٌo په حالت کې د آرام سمندر د بادونو (Trade Winds) جوړښت بدلېږي او عموماً کمزوري کېږي. دا بدلونونه د نړۍ په بېلابېلو سيمو کې د هوايي سيستمونو توازن ګډوډوي. په ځينو سيمو کې د بادونو پورته حرکت د زيات باران او سېلابونو سبب کېږي، په داسې حال کې چې په نورو سيمو کې د باران کمښت، وچکالي او له اوسط څخه لوړه تودوخه رامنځته کېږي.

لومړی شکل کې چې د Niٌo–۳،۴ شاخص پر بنسټ، د ERSSTv۵ معلوماتو او ±۰،۵ درجې سانتيګراد کچې ته په کتو سره د لا نينيا، نورمال (ENSO–neutral) او ال‌نينو د پېښېدو موسمي احتمالونه ښيي. ستنې د بېلابېلو موسمونو لپاره د وړاندوينې احتمالونه ښيي، پايلې ښيي چې په ټوله کې دا وړاندوينه د خنثی ENSO حالت څخه د قوي ال‌نينو حالت ته د انتقال څرګندونه کوي.
دا لاندې شکل د اقليم د وړاندوينې مرکز (NOAA CPC) له خوا د ENSO د وضعيت احتمالي وړاندوينه ښيي. په دې ګراف کې سور رنګ د ال‌نينو، خړ رنګ د خنثی (Neutral) او آبي رنګ د لانينا احتمال څرګندوي. وړاندوينه د پرله‌پسې درې مياشتنيو فصلونو لپاره وړاندې شوې چې له (AMJ) اپرېل-مې-جون څخه تر (DJF (دسمبر-جنوري-فيبروري پورې دوام لري.




د ۱ شکل ګراف له مخې د (AMJ) په دوره کې د ENSO خنثی حالت غالب دی او شاوخوا ۸۴ سلنه احتمال لري، په داسې حال کې چې د النينو احتمال نږدې ۱۶ سلنه او د لانينا احتمال نږدې صفر دی. دا ښيي چې د وړاندوينې په پيل کې د استوايي ارام سمندر شرايط لا هم په خنثی حالت کې دي.

شکل ۱ : NOAA/CPC له خوا د ENSO د حالاتو رسمي احتمالي وړاندوينه (د ۲۰۲۶ کال د مۍ مياشت)

خو د (MJJ) مۍ-جون-جولای دورې ته په رسېدو سره د النينو احتمال په چټکۍ لوړېږي او شاوخوا ۸۲ سلنې ته رسېږي، په داسې حال کې چې د خنثی حالت احتمال ۱۸ سلنې ته راټيټېږي. دا بدلون د دې ځرګندونه کوي چې النينو د ۲۰۲۶ کال په منځنيو مياشتو کې په چټکۍ سره رامنځته کېږي.

په راتلونکو فصلونو لکه JJA، JAS، ASO، SON او OND کې د النينو احتمال لا زياتېږي او د ۹۲ څخه تر ۹۸ سلنې پورې رسېږي. تر ټولو لوړ احتمال د ASO، SON او OND فصلونو کې ليدل کېږي چې نږدې ۹۸ سلنه دی. دا په ډاګه کوي چې ډېرى اقليمي ماډلونه د ۲۰۲۶ کال په دويمه نيمايي کې د النينو د حاکميت په اړه قوي توافق لري.په همدې وخت کې د خنثی حالت احتمال له ۱۸ سلنې څخه په تدريجي ډول ۲-۴ سلنې ته راکمېږي، او د لانينا احتمال د وړاندوينې په ټوله موده کې نږدې صفر سلنه پاتې کېږي. دا په دې معنا ده چې د لانينا د رامنځته کېدو چانس ډېر کم ارزول شوی دی.

د ۲۰۲۶ کال له منځ څخه تر پايه پورې النينو د غالب اقليمي حالت په توګه پاتې کېږي او احتمال يې له ۹۰ سلنې څخه لوړ دی. د لانينا نشتون او د خنثی حالت د احتمال شديد کمښت د دې ښکارندوی دی چې نړيوال اقليمي ماډلونه د النينو د رامنځته کېدو او دوام په اړه لوړ باور لري.




د اقليمي اغېزو له نظره، دا ډول پياوړی النينو کولای شي د افغانستان په بېلابېلو سيمو کې د اورښت، د تودوخې درجې، وچکالۍ، سېلابونو او نورو هايدروميتيورولوژيکي پېښو پر بنو اغېزه وکړي. له همدې امله د راتلونکو مياشتو موسمي وړاندوينې بايد د ENSO د دې احتمالي وضعيت په پام کې نيولو سره وارزول شي.

په پورته ګراف کې د IRI مدل په اساس د نورمال (Neutral) او النينو (El Niٌo) د پېښېدو احتمالونه د بېلابېلو موسمي دورو لپاره د Niٌo–۳،۴ د سمندر د سطحې د تودوخې د انحراف (±۰،۵°C) پر بنسټ ښودل شوي دي. ستنې د ماډلونو احتمالي وړاندوينې او کرښې د هر حالت اوږدمهاله اقليمپېژندنې اوسط ښيي. پايلې ځرګندوي چې د روان کال د مۍ د مياشتې څخه شروع بيا د کال تر پايه د ال نينو د دوام احتمال زياتېږي.



## پایلې او وړاندیزونه ( Conclusion & Recommendations)

د نړیوالو اقلیمي مرکزونو د وروستیو وړاندوینو له مخې، تمه کېږي چې د ۲۰۲۶ کال په اوږدو کې د استوایي آرام سمندر وضعیت د ال نینو مرحلې ته داخل شي او د کال تر پایه دوام ومومي. د ال‌نینو رامنځته کېدل کولای شي د افغانستان پر موسمي اقلیم هم اغېز ولري، خو د دغو اغېزو شدت او جغرافیایي وېش به د سیمه‌ییزو اقلیمي عواملو له امله توپیر ولري.

۱. د ۱۴۰۵ کال د اوړي په موسم کې د هېواد په ډېری سیمو کې د نورمال څخه د لوړې تودوخې احتمال موجود دی. د تودوخې لنډمهالې څپې ښایي په ځینو سیمو کې د نورمال په پرتله د پام وړ لوړې درجې رامنځته کړي، په ځانګړې ډول په ټیټو او وچو سیمو کې. خو په ټوله کې د ګرمۍ څپې کولی شي په لنډمهاله توګه د تودوخې درجه تر عادي حالت له ۸ څخه تر ۱۲ سانتي ګراد درجو پورې لوړه کړي.

۲. د ځینو موسمي ماډلونو د وړاندوینو له مخې، د اوړي په وروستیو او د مني په پیل کې په افغانستان کې د نورمال څخه د لوړو اورښتونو احتمال موجود دی. چې د اورښت کچه تر معمول ډېره زیاته اټکل شوې ده. دا وضعیت کولای شي په ځینو سیمو کې د سېلابونو د خطر کچه لوړه کړي، چې په ځانګړې توګه د هېواد شمال به ترې ډېر اغېزمن شي

۳. د سویلي آسیا د مونسون د فعالیت بدلونونه ښایي د افغانستان په ختیځو او سوېل ختیځو سیمو کې د موسمي اورښتونو پر کچه اغېز وکړي. د مونسون د کمزورۍ په صورت کې امکان لري چې یادې سیمې د اوړي په موسم کې د نورمال په پرتله کم اورښتونه ترلاسه کړي.

د افغانستان لپاره د دغو وړاندوینو احتمالي اغېزې ښیي چې د ۱۴۰۵ کال د ژمي او د ۱۴۰۶ کال د پسرلي په موسم کې د نورمال په پرتله د لوړو اورښتونو، د واورو د زیاتې زېرمې او د اوبو د سرچینو د وضعیت د ښه کېدو احتمال موجود دی. دغه شرایط کولای شي د وروستیو کلونو د وچکالۍ د اغېزو په کمېدو، د اوبو د سرچینو په پیاوړتیا او د زراعتي فعالیتونو په ښه والي کې مرسته وکړي. خو د وچکالۍ د بشپړې پای ته رسېدو په اړه پرېکنده قضاوت لا وختي دی، ځکه د وچکالۍ وضعیت یوازې د یوه موسم له اورښتونو نه، بلکې د څو پرله‌پسې موسمونو د اورښتونو، واورو د زېرمې او د اوبو د سرچینو د بیا رغېدو له بهیر سره تړاو لري. همدارنګه د دغو احتمالي ګټو ترڅنګ د سېلابونو جدي خطر باید له پامه ونه غورځول شي.

## وړاندیزونه:

- د هایدرومیتورولوژیکي او اقلیمي شاخصونو، په ځانګړي ډول ENSO او IOD، دوامداره څارنه او ارزونه باید پیاوړې شي.

- اړوندې اداري دې د ۱۴۰۵ کال د ژمي او ۱۴۰۶ کال د پسرلي لپاره د نورمال څخه د لوړو اورښتونو او احتمالي سېلابي خطرونو د مدیریت چمتووالی ونیسي.

- د اوبو د سرچینو د مدیریت اداري دې د احتمالي زیاتېدونکو اوبو د اغېزمنې استفادې، زېرمه کولو او تنظیم لپاره لازم پلانونه چمتو کړي.

- د کرنې سکتور دې د راتلونکو موسمي شرایطو په پام کې نیولو سره د کرنیزو فعالیتونو، تخمونو او اوبو لګولو اړوند تدابیر تنظیم کړي.

- له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداره دې د سېلابونو، ځمکې ښوېدنو او نورو هایدرومیتورولوژیکي خطرونو لپاره د مخکېنې خبرداري او چمتووالي اقدامات پیاوړي کړي.

- د ENSO د راتلونکو میاشتو تحولاتو ته په کتو سره دې موسمي وړاندوینې او د خطر ارزونې په منظم ډول نوې او له اړوندو ادارو سره شریکې شي.

په ټوله کې، اوسني نړیوال اقلیمي شاخصونه د افغانستان لپاره د راتلونکي اوړی، ژمي او پسرلي په موسمونو کې د نورمال څخه د لوړو اورښتونو احتمال ته اشاره کوي، چې کېدای شي د اوبو د سرچینو د نسبي ښه والي لامل شي. خو د دغو احتمالي ګټو ترڅنګ د سېلابونو او نورو هایدرومیتورولوژیکي خطرونو د مدیریت لپاره هم جدي چمتووالي ته اړتیا شته.

ترتیب کونکی: مطیع الله "عزیزی" د هایدرو متیورولوژیکی او اقلیمی بدلون پیښو متخصص

# لاسته راوړني

## د ۱۴۰۵ لمريز کال په لومړي ربع (وري، غويي او غبرګولي مياشتو) کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې د فعاليتونو او لاسته راوړنو بشپړ راپور

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې د يوه مسؤلې ادارې په توګه د قدرتي او غيرقدرتي پېښو د خطرونو د مخنيوي او کمولو، د زيانمنو شويو کسانو د بېړنيو اړتياوو د پوره کولو او د ماين پاکۍ چارو د همغږۍ په برخه کې، په تېرو درېيو مياشتو کې لاندې فعاليتونه ترسره کړي دي:

### د هوکړه ليکونو د لاسليک برخه:

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې د روان کال په لومړي ربع کې د پېښو مديريت، د خطرونو کمولو، د پېښو له امله زيانمنو سره د مرستو، عامه پوهاوي او له خطر سره مخ خلکو ته د رسېدنې په برخه کې له ملي او نړيوالو موسسو سره ټولټال د ۴۱،۷۳۶،۴۰۷ (يو څلويښت ميليونه او اووه لکه او شپږدېرش زره او څلور سوه او اووه) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو ۲۲ هوکړه ليکونه لاسليک کړي دي.



## د ماینونو او ناچاودو توکو د پاکولو د همغږۍ او انسجام برخه:

دا اداره د ماین پاکۍ چارو له موسسو سره په همکارۍ توانېدلې ده، چې د ۱۴۰۵ لمریز کال په لومړي ربع کې، ۳۰.۷۲ کیلومتره مربع په ماینونو او ناچاوده توکو ککړې سیمې پاکې کړي. ورته مهال د دې ادارې د ماین پاکۍ د همغږۍ او انسجام ریاست اړوند د ۲۴ ساعته اړیکې شمېرې د فعالیت په ترڅ کې ۱،۸۹۹ کړۍ ماینونه او ناچاوده توکي په خوندي ډول انتقال او له منځه وړل شوي دي.
همداراز، یو میلیون او درې پنځوس زره او درې سوه او دوه ویشت (۱،۰۵۳،۳۲۲) کسانو ته د ماینونو او ناچاوده توکو د خطرونو په اړه عامه پوهاوی ورکړل شوی او د عامه پوهاوي پیغامونو درلودونکي ۳۵۸،۰۹۹ عدده قلمونه، کتابچې، بروشرونه او د بېړنۍ شمېرې کارتونه وېشل شوي دي.





## کمک‌های بشردوستانه:

اداره  آمادگی مبارزه با حوادث در ماهای حمل، ثور و جوزا سال روا ن در همکاری با نهاد های امداد رسان ملی و بین المللی که با این اداره تفاهم نامه همکاری دارند و به گونه هماهنگکار می‌کنند، برای ۲۵۷،۱۸۸ خانواده مساعدت های خوراکی، غیر خوراکی و نقدی انجام داده است که از این جمله، تعداد ۱۳۲۰۰۰ خانواده مواد خوراکی و غیر خوراکی دریافت کرده و ۱۲۵۱۸۸ خانواده دیگر کمک نقدی دریافت کرده اند که مجموع کمک‌های نقدی به مبلغ  شش‌صد و پنج میلیون و سه‌لک و سی و سه هزار و نه‌صد و نود و هشت (۶۰۵۳۳۳۹۹۸) افغانی می‌رسد.

قابل ذکر است که کمک‌های نقدی جهت اعمار و ترمیم سرپناه، تهیه مواد غذایی، کمک برای بیجادشدگان ناشی از جنگو کمک برای ورثه شهدای ناشی از حوادث در کتگوری‌های مختلف انجام شده است.

## پروژه‌های وقایوی و کاهش خطرات:


این اداره توانسته است در ربع اول سال به تعداد ۴۱ پروژه وقایوی را در سطح کشور تطبیق نماید که شامل، ساخت و ترمیم پل، پلچک، دیوار های استنادی، گبیونی، ساخت و پاک کاری سرک، پاکاری سیلبرها چیکدم و سربند میباشد.
اداره آمادگی مبارزه با حوادث با حمایت نهاد همکار برای ۷۹ خانواد متضرر ناشی از حوادث سرپناه دایمی فراهم کرده و هم چنان برای ۲۰۵۳۶۵ تن در مورد خطرات ناشی از حوادث قدرتی آگاهی عامه ارایه نموده است.







## کمک ها برای بیجا شدگان ناشی از جنگ های اخیر در زون شرق:

بر اساس هدایت مقام عالی ریاست الوزرا امارت اسلامی که رسیدگی برای بیجاشدگان ناشی از جنگ را در زون مشرقی به این اداره سپرده بود، این اداره برای ۱۸۸۹۹ خانواده بی‌جا شده کمک‌های غذایی، غیر غذایی و هم‌چنان برای آن عده از بیجاشدگان که به خیمه نیاز داشتند، خیمه توزیع کرده است




## اقدامات انجام شده برای عودت کننده گان:

اداره آمادگی مبارزه با حوادث جهت اسکان موقت و رسیدگی بهتر برای عودت کننده‌گان اخراج اجباری چهار کمپ را در ولایت‌های کندهار، هرات، نمیروز و ننگرهار ایجاد کرده است که در سه ماه گذشته ۲۰۷۸ خانواده در این کمپ‌ها اسکان موقت نموده و از خدمات موجود استفاده کرده اند. در این کمپ‌ها سهولت‌های همچون، آب آشامیدنی، برق، کمپل، امبولانس، کلینیک صحی و ارایه خدمات صحی وجود دارد که تنها درکلینیک کمپ این اداره در تورخم ۹۷۶۸ تن خدمات صحی را دریافت کرده اند.




## ارایه کمک‌های استثنایی برای شهدا و مجروحان حادثه کمپ امید:

بر اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره آمادگی مبارزه با حوادث، در یک اقداما مشترک با معینیت محترم مبارزه با مواد مخدر وزارت امور داخله برای ورثه شهدا و مجروحان حمله هوایی بالای کمپ امید، مرکز تداوی معتادان کمک نقدی توزیع گردید، طوریکه برای ورثه هر شهید مبلغ پنجاه هزار(۵۰۰۰۰) افغانی و برای هر زخمی مبلغ سی‌هزار(۳۰۰۰۰) افغانی توزیع گردید.




## راپورونه



# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس د وروستیو نښتو له امله بې ځایه شویو ته د رسېدنې په موخه ختیځ زون ته سفر وکړ

د ریاست الوزرا د عالي مقام د لارښوونې پر بنسټ او په ختیځ زون کې د وروستیو نښتو له امله، چې د هېواد د یو شمېر ولسوالیو زرګونه کورنۍ یې بې ځایه کړې دي، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د یوه تخنیکي او مسلکي پلاوي په مشرۍ ننګرهار ولایت ته سفر وکړ. د دغه سفر موخه د بې ځایه شویو کورنیو د وضعیت ارزونه، د دولتي ادارو او همکارو مؤسسو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کول او د زیانمنو کورنیو د سروې او رسېدنې د بهیر چټکتیا بلل شوې ده. د دغه سفر په لومړۍ ورځ د ننګرهار، لغمان، کونړ او نورستان ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو له رئیسانو او مسؤلینو سره غونډه ترسره شوه. په دې ناسته کې محترم ترابي صاحب د بې ځایه شویو کورنیو ستونزو ته پر بېړنۍ، شفافې او اغېزمنې رسېدنې ټینګار وکړ او د سروې او مرستو د وېش د بهیر د چټکتیا په اړه یې لازمې لارښوونې وکړې. همدارنګه، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس د ننګرهار ولایت له والي، د افغاني سرې میاشتې ټولنې له رئیس، د اقتصاد له رئیس او د کډوالو چارو له رئیس سره وکتل او د بې ځایه شویو د وضعیت، شته امکاناتو او د اړوندو ادارو ترمنځ د لا ښې همغږۍ د رامنځته کولو په اړه خبرې او نظرونه شریک شول.په دوام کې، بې ځایه شویو ته د رسېدنې د اوولس مادېز پلان پر اجنډا خبرې وشوې او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري، د ولایت مقام، د افغاني سرې میاشتې د کډوالو چارو ریاست، د ولسوالیو مسؤلینو او سیمه ییزو مخورو له استازو څخه جوړ ګډ ټیمونه د زیانمنو کورنیو د سروې او ارزونې لپاره زیانمنو سیمو ته واستول شول. محترم ترابي صاحب همدارنګه د ختیځ زون لپاره د OCHA د دفتر له مسؤل ډاکټر اسماعیل امن او د دغه دفتر د بېړنیو حالاتو د برخې له مسؤل سره لیدنه وکړه او د بې ځایه شویو لپاره د بشري مرستو د همغږۍ او تنظیم په اړه یې خبرې وکړې. د دغه سفر په ترڅ کې، هغو ۱۵۲ کورنیو ته چې د کونړ ولایت له زیانمنو ولسوالیو د وروستیو نښتو له امله ننګرهار ولایت ته انتقال شوې وې، د سروې او تثبیت وروسته، نغدي او غیرنغدي مرستې ووېشلې.په دغو مرستو کې نغدي مرسته، کمپلې، د پخلنځي بستې، سولري څراغونه، جارو او روغتیایي بستې شاملې وې، چې د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) او PU–AMI مؤسسې په همکارۍ برابرې شوې دي.د مرسته ترلاسه کوونکو کورنیو د افغانستان اسلامي امارت، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او همکارو مؤسسو له همکاریو مننه وکړه او د زیانمنو کورنیو د ستونزو د حل په موخه یې د مرستو او همکاریو د دوام غوښتنه وکړه.د یادونې وړ ده چې په ننګرهار، لغمان، کونړ او نورستان ولایتونو کې د بې ځایه شویو کورنیو د سروې او ارزونې بهیر لا هم دوام لري او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداره ژمنه ده چې د اړوندو ادارو په همغږۍ به زیانمنو کورنیو ته لازم خدمات برابر کړي.



## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د آغاخان بنسټ ترمنځ د یو دېرش میلیونه او درې لکه او څلور دېرش زره او درې سوه او شل (۳۱،۳۳۴،۳۲۰) ډالرو په تولیز ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه

د۸/۱۲/۱۴۴۷ هـ‌ق نېټه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په خپل کاري دفتر کې په افغانستان کې د آغاخان بنسټ له اجرائیوي رئیس، محترم ډاکتر نجم‌الدین نجم، د هستوګنې لپاره د آغاخان مؤسسې له اجرائیوي رئیس، محترم راحت‌الله بیک، په افغانستان کې د آغاخان بنسټ له مرستیال، محترم عبدالضیاء نوري، په افغانستان کې د هستوګنې لپاره د آغاخان مؤسسې د بېړنیو حالاتو مسؤول، محترم سیداحمد سهیم او د آغاخان بنسټ د ټولنیزې پراختیا مسؤول، محترم بهاوالدین نبي‌زاده سره وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

محترم ترابي صاحب په دې ناسته کې د آغاخان مؤسسې له همکاریو څخه قدرداني وکړه او ویې ویل، د موجوده پروګرامونو له مخې د بشري مرستو ترڅنګ د اداري تمرکز تر ډېره د بنسټیزو او وقایوي پروژو پلي کولو او د اړینو برخو پر تجهیز کولو دی، ترڅو د قدرتی پېښو پر وړاندې د خلکو د زیانمنتیا کچه راکمه شي.

په همدې حال کې، د هستوګنې لپاره د آغاخان مؤسسې اجرائیه رئیس، د خپلو خبرو په پیل کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري له رئیس او ټولو کارکوونکو څخه مننه وکړه او څرګنده یې کړه چې د دې اداري له هر اړخیزو همکاریو څخه منندوی دي او تل به هڅه وشي چې له یادې اداري سره په بشپړې همغږۍ اړمنو خلکو ته مرستې ورسول شي. نوموړي زیاته کړه چې د دې بنسټ له اساسي اصولو څخه یو هم د پېښو پر وخت چټکه رسېدنه او د بېړنیو حالاتو پر وړاندې بشپړ چمتووالی دی.

د یادونې وړ ده چې په پای کې د دواړو لورو ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه، چې له مخې به یې یاده مؤسسه د یو دېرش میلیونه او درې لکه او څلور دېرش زره او درې سوه او شل (۳۱،۳۳۴،۳۲۰) ډالرو په ټولیز ارزښت خپل فعالیتونه د ۱۱ ولایتونو، کابل، پروان، میدان وردګ، غزني، لوګر، هرات، کندز، تخار، بدخشان، کونړ او نورستان اړوند په ۸۰ ولسوالیو کې پلي کړي.

# د پېښو چارو د انسجام معين تر څارنې لاندې د کابل ښار په دوو سيمو واصل‌آباد او د شهدای صالحينو غره کې د خطرناکو ډبرو له منځه وړلو بهير بشپړ شو او په نورو سيمو کې د سروې او ارزونې بهير دوام لري

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې د محترم مقام د لارښوونې پر بنسټ او د هېوادوالو د ځان او مال د خونديتوب په موخه د روانو هڅو په دوام، د کابل ښار د اوومې ناحيې اړوند د واصل‌آباد غره او د لومړۍ ناحيې اړوند د شهدای صالحينو غره په سيمو کې د خطرناکو ډبرو له منځه وړلو چارې، چې د پېښو چارو د انسجام معين، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث) تر څارنې لاندې د ادارې د تخنيکي، مسلکي او تجربه لرونکي ټيم له خوا، چې په دې ټيم کې د خطر د مخنيوي او کمولو رئيس، محترم حاجي اختر محمد خادم، د کابل ولايت پېښو ته د رسېدنې آمر، مولوي حنيف الله همدرد او يو تخنيکي، مسلکي او تجربه لرونکي ټيم، چې د څېړنې او مطالعاتو آمر، مجتبی افضلي، د پېښو د تحليل او ارزونې کارپوه، انجنير الله داد قرلق، د پېښو د خطرونو او اغېزو د مخنيوي او کمولو کارپوه، انجنير جلال الدين جمالي، د عامه پوهاوي کارپوه، انجنير احمد صابر ملک زاده، د عامه پوهاوي د ويډيويي کليپونو عمومي مدير، عطا محمد معمارزاده او ويډيو ايډيټر او مستند جوړوونکی، عبدالسميع شامل وو، پيل شوې وې، بشپړې شوې او دغه بهير په نورو سيمو کې هم دوام لري. د پېښو چارو د انسجام محترم معين د کابل ښار د لومړۍ او اوومې ناحيو له اوسېدونکو سره د ليدنې پر مهال هغوی د پروژو په پلي کېدو کې همکارۍ ته وهڅول او اړوندو ټيمونو ته يې لارښوونه وکړه چې چارې پر خپل وخت او د بشپړو خونديتوب تدابيرو په پام کې نيولو سره ترسره کړي.

په همدې حال کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې د خطر د مخنيوي او کمولو رئيس، محترم حاجي اختر محمد خادم، د پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او ويې ويل چې د کابل ښار د لومړۍ ناحيې د دويم ګذر د شهدای صالحينو غره په سيمه کې (۱۱) لويې او خطرناکې ډبرې، چې تولېز حجم يې (۱۴۱.۶۶۷) متر مکعب و، د ۱۴۴۷/۱۷/۱۱ هـ.ق نېټې څخه د ۱۴۴۷/۱۲/۵ ق نېټې پورې د قراردادي شرکت له خوا وېجاړې شوې، چې خوشبختانه دا بهير په بشپړ ډول پای ته رسېدلی دی. هغه زياته کړه چې د کابل ښار د اوومې ناحيې د څلورم ګذر د واصل‌آباد سرچهل‌زينه سيمې د مسجدالمدينه په ساحه کې هم (۵) خطرناکې ډبرې، چې تولېز حجم يې (۹۹.۶۹۶) متر مکعب و، د ۱۴۴۷/۱۱/۸ هـ.ق نېټې څخه د ۱۴۴۷/۱۲/۸ ه ق نېټې مې پورې وېجاړې شوې او اوس يادې سيمې د ډبرو د ښويېدو له خطر څخه خوندي شوې دي. نوموړي ټينګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداره ژمنه ده، څو د کابل ښار او د هېواد په نورو ولايتونو کې د خطرناکو ډبرو د پېژندنې، سروې، ارزونې او وېجاړولو بهير په منظم، پلان شوي او دوامداره ډول پرمخ يوسي او د احتمالي پېښو او مرګژوبلې مخه ونيسي.د يادونې وړ ده چې هېوادوال کولای شي، که په خپلو سيمو کې له ښويېدو سره مخ خطرناکې ډبرې يا ورته نور ګواښونه ويني، موضوع د خپلو ګذر وکيلانو او اړوندو ناحيو له لارې په رسمي ډول د کابل ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست سره شريکه کړي، ترڅو اړين اقدامات په لنډ ممکن وخت کې ترسره شي.



## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئيس په کابل کې د ټيکا د دفتر له رئيس سره وکتل

د ۱۴۴۷/۱۱/۲۷ هـ ق نېټه، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي، په کابل کې د ټيکا د دفتر له رئيس، محترم ميکائيل تاسد يمير او د دغه دفتر له سکرتر خالد تاج سره په خپل کاري دفتر کې وکتل او خبرې يې وکړې.

په دې ناسته کې محترم ترابي صاحب د ټيکا دفتر د بشري مرستو او د دې ادارې د کارکوونکو د ظرفيت لوړونې په برخه کې له همکاريو څخه د مننې ترڅنګ وويل، چې د ادارې د دندو او مسئوليتونو له مخې، د هېوادونو، مؤسسو او همکارو سازمانونو له لوري وړاندې شوې مرستې په شفاف ډول د افغانستان ټولو ولايتونو ته لېږدول کېږي او زيانمنو او مستحقو کسانو ته وېشل کېږي.

هغه زياته کړه، موږ هڅه کوو چې د بهرنيو چارو وزارت له لارې د ظرفيت لوړونې او همغږۍ د پياوړتيا په برخه کې د ترکيې د طبيعي پېښو اداري سره د همکاريو او تجربو د تبادلې زمينه برابره کړو.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئيس ټينګار وکړ، چې ملي او نړيوالو مؤسسو او سازمانونو ته لازمې اسانتياوې برابرې شوې دي، څو وکولای شي د جغرافيايي موقعيت، مذهب او ژبې له توپير پرته، په ټول افغانستان کې خپل فعاليتونه ترسره کړي، او دې ادارې تل له هغوی ملاتړ کړی دی.

هغه همداراز له ټيکا دفتر څخه وغوښتل، چې د پېښو مديريت او د دې ادارې د کارکوونکو د ظرفيت لوړونې په برخو کې خپلو همکاريو ته دوام ورکړي.

له بلې خوا، په کابل کې د ټيکا دفتر رئيس، محترم ميکائيل تاسد يمير، د بغلان ولايت له سېلاب ځپلو سره د خپل دفتر د مرستو يادونه وکړه او ويې ويل، چې ټيکا د بېړنيو مرستو او په نورو اړونده برخو کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري سره همکارۍ او همغږۍ ته چمتو ده.

په پای کې، دواړو لورو د نږدې همغږۍ او همکاريو پر پياوړتيا ټينګار وکړ او د همکاريو د دوام لپاره يې ګډه ژمنتيا څرګنده کړه.






## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس د افغانستان لپاره د اوزبیکستان له سفیر سره وکتل

د ۲۶/۱۱/۱۴۴۷ هـ ق نېټه، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د اوزبیکستان له سفیر محترم آیبک عثمانوف او د یاد هېواد د سفارت له اقتصادي او سیاسي مرستیال ښاغلي بهادر سره وکتل او د بشري مرستو او د پېښو د مدیریت په اړه یې خبرې وکړې.

محترم ترابي صاحب په پیل کې د اوزبیکستان پلاوي ته ښه راغلاست وویل او څرګنده یې کړه چې دواړه هېوادونه د دیني، فرهنګي او جغرافیایي اړخونو له پلوه ډېرې ګډې ځانګړتیاوې لري او د دواړو هېوادونو اړیکې باید د ورورولۍ او دوستۍ په فضا کې لا دوام ومومي. هغه د اوزبیکستان د بشري مرستو له امله مننه وکړه او ویې ویل چې د اقلیمي بدلونونو له امله د طبیعي پېښو کچه او د افغانستان پر خلکو یې منفي اغېزې زیاتې شوې دي او دې موضوع د اړتیاوو کچه هم لوړه کړې ده.

د اداري محترم لوی رئیس زیاته کړه، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداره په هېواد کې د پېښو مدیریت د مسوولې اداري په توګه فعالیت کوي او د زیانمنو لپاره د مرستو د ترلاسه کولو او وېش بهیر د دې اداري له اساسي دندو څخه دی. هغه همدارنګه ټینګار وکړ چې ټولې هغه مرستې چې د مرستندویه هېوادونو له لوري دې اداري ته سپارل کېږي، په شفاف، چټک او منظم ډول ۳۴ ولایتونو ته لېږدول کېږي او مستحقینو ته وېشل کېږي.

په همدې حال کې، د اوزبیکستان سفیر محترم آیبک عثمانوف دواړه هېوادونه ښه ګاونډیان او د سختو ورځو دوستان وبلل او ویې ویل چې هېواد یې د پېښو پر مهال د افغانستان خلکو ته بشري مرستې وړاندې کړې دي. هغه زیاته کړه چې د اوزبیکستان مرستې د افغانستان د ټولو خلکو لپاره دي او دوی په ناوړه شرایطو کې او د پېښو پر مهال د همکاریو او بشري مرستو د زیاتوالي لارې چارې ارزوي.

د اوزبیکستان محترم سفیر د دوه اړخیزو همکاریو پر دوام ټینګار وکړ او د پېښو پر مهال یې د بشري مرستو د وړاندې کولو لپاره د خپل هېواد چمتووالی اعلان کړ.

په پای کې دواړو لورو د دوستانه اړیکو او ګډو همکاریو پر پراختیا ټینګار وکړ او یو بل ته یې ډالۍ هم ورکړې.

# رئیس عمومی اداره آمادگی مبارزه با حوادث از چندین پروژه زیربنایی و مهم در ولایت‌های زابل و ارزگان بازدید و نظارت به عمل آورد

در راستای رسیدگی به مشکلات مردم، نظارت از روند تطبیق پروژه‌های زیربنایی و ارزیابی وضعیت مناطق آسیب‌پذیر، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره آمادگی مبارزه با حوادث، به تاریخ 18/ 12/ 1447 ه ق طی یک سفر رسمی به ولایت‌های ارزگان و زابل، از شماری از پروژه‌ها و ساحات متأثر از حوادث بازدید و نظارت به عمل آورد.

در این سفر، از روند ساخت تعمیر اداری ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ارزگان توسط ترابی صاحب دیدار صورت گرفت و بر تطبیق معیاری، شفافیت و تکمیل به‌موقع این پروژه تأکید شد. همچنان با کارمندان ریاست دیدار شده و مشکلات و پیشنهادات آنان استماع گردید.



- رئیس عمومی اداره همچنان از پروژه ساخت سرک در منطقه دره‌تنگی ولسوالی دهراود، وضعیت پل آسیب‌دیده دهراود و نیاز مردم به اعمار پل در منطقه انارجی بازدید نموده و در خصوص رسیدگی به این مشکلات اطمینان همکاری سپرد.





- در ادامه، از پل ساحه کوراب در مرکز ولایت ارزگان و پل تخریب‌شده کلخور در ولسوالی خاص ارزگان نیز بازدید صورت گرفت و بر پیگیری روند ترمیم و بازسازی این تأسیسات حیاتی تأکید شد.



- همچنین، رئیس عمومی اداره از ساحات پروژه‌های مدیریت آب در ولسوالی چوره، شامل پروژه سایفون در منطقه دوله و سیفون قریه سرآب، دیدار نموده و نقش این پروژه‌ها را در کاهش خطرات حوادث و بهبود زندگی مردم مهم عنوان کرد.





- در بخش دیگر این سفر، از روند تطبیق پروژه‌های سرک کوشه‌کوتل و شنه‌کوتلونه میان ولسوالی‌های خاص ارزگان، چوره و چنارتو نظارت صورت گرفت؛ پروژه‌هایی که در تسهیل رفت‌وآمد، دسترسی مردم به خدمات اساسی و رشد اقتصادی منطقه نقش مهمی دارند.



- محترم الحاج ملا نورالدین ترابی همچنان از روند ساخت سرک میان ولسوالی خاص ارزگان ولایت ارزگان و ولسوالی خاک افغان ولایت زابل بازدید نموده و بر تکمیل معیاری و به‌موقع آن تأکید کرد. این سرک در تقویت روابط اقتصادی و اجتماعی میان دو ولایت و ایجاد سهولت برای مردم، دارای اهمیت ویژه می‌باشد.

در جریان این سفر، رئیس عمومی اداره آمادگی مبارزه با حوادث با مسئولان محلی، بزرگان قومی و باشندگان مناطق مختلف دیدار نموده، مشکلات و خواست‌های آنان را استماع کرد و اطمینان داد که این اداره برای رسیدگی به نیازهای اساسی مردم، تطبیق پروژه‌های عام‌المنفعه و کاهش خطرات ناشی از حوادث، تلاش‌های خود را ادامه خواهد داد.



عامه پوهاوی او روزنه

## د سېلابونو د خطرونو پر وړاندې د سیمو او سیمه ییزو بنسټونو پیاوړي کول

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د IMMAP مؤسسې د ارزونې له مخې، په ۱۳۹۸ کال کې زموږ په ګران هېواد افغانستان کې نږدې ۷.۵ میلیونه کسان د سېلاب له خطر سره مخ ژوند کوي. له دې کسانو څخه، شاوخوا ۱.۲۹ میلیونه کسان د سېلاب د لوړ خطر په سیمه کې او نږدې ۳ میلیونه کسان د سېلاب د منځني خطر په سیمه کې ژوند کوي. د همدې ارزونې پر بنسټ، په ټولیز ډول نږدې ۷۲،۸۰۰ کیلومتره مربع د افغانستان خاوره د سېلاب د ګواښ لاندې ده.

## سیلاب څه دی؟

سیلاب هغه وخت رامنځته کېږي کله چې زیاته اندازه اوبه د وچو ځمکو پر لور بهېږي او په پایله کې د انسانانو د مرګژوبلې او مالي زیانونو لامل ګرځي.

## د سېلابونو لاملونه:

۱. په سېلابي لارو او سېلاب راوتونکو درو کې د کورونو، جوماتونو، ښوونځیو او نورو ودانیو جوړول؛

۲. د اوبو ډنډېدو او د اوبو بهېدو لارو کې ضعیفو (خامو او پخسه یي) ودانیو او بنسټونو جوړول؛

۳. سخت او پرله‌پسې بارانونه؛

۴. د اوبو د ډنډېدو په سیمو کې د اوبو د بهېدو او د اوبو تېرېدو کانالونو نشتوالی؛

۵. په کلکه او پایداره بڼه د بندونو، کانالونو، ویالو او د اوبو د لارو نشتوالی؛

۶. د اوړي په موسم کې د تودوخې د زیاتوالي له امله د واوريو د لویو برخو چټک ویلي کېدل؛

۷. د اوبو د بندونو ماتېدل؛

۸. له ویالو، کانالونو او اوبو راتېرېدونکو ځایونو څخه د اوبو را لوړېدل، د دې له امله چې د اوبو اندازه د هغوی له ظرفیت څخه زیاته وي؛

۹. د ځنګلونو او بوټو پرې کول چې په ځمکه کې د اوبو د جذب د کمښت لامل کېږي؛

۱۰. د سیندونو په دواړو غاړو کې په منظمه توګه د ځمکې کارولو د پلان نشتوالی (د سیندونو، ویالو او کانالونو دواړو غاړو ځمکې باید د ځنګل جوړولو لپاره ځانګړې شي)؛

۱۱. د سېلاب د خطرونو په اړه د خلکو پوهاوی نه درلودل؛

۱۲. پر وخت او منظم د خبرداري ورکولو سیستم نشتوالی؛

۱۳. په ښارونو کې د کانکریټي او پخې شویو سیمو زیاتوالی چې په ځمکه کې د اوبو د جذب مخه نیسي؛

۱۴. د غرونو په سر کې د یخچالونو او لویو واورینو حوضونو ماتېدل.

# د سېلابونو ډولونه:

## ۱ موسمي سېلابونه:

دا ډول سېلابونه معمولاً په پسرلي کې رامنځته کېږي او د سختو او پرله‌پسې بارانونو له امله، اوبه له لوړو ځایونو څخه ښکته ته بهېږي او د انسانانو د مرګژوبلې او مالي زیانونو لامل کېږي.

## ۲ د سیندونو د اوبو لوړېدو له امله سېلابونه:

دغه ډول سېلابونه د ګرمۍ په موسم کې رامنځته کېږي او د هوا د تودوخې د لوړوالي او چټک زیاتوالي له امله دي، چې د واورې لویې برخې ویلې کېږي. په پایله کې، د سیندونو اوبه لوړېږي او د سیند دواړو غاړو ته سېلاب رامنځته کوي. د سیندونو سېلابونه معمولاً ورو پروسه لري او کولای شي د لوړ ځایونو خلکو ته خبرداری ورکړي، ترڅو د تیټو سیمو خلک ځان چمتو کړي.

## ۳ ناڅاپي او چټک راوتوونکي سېلابونه:

دغه ډول سېلابونه د دوبي په موسم کې د سختو او پرله‌پسې بارانونو له امله رامنځته کېږي، کله چې ځمکه وچه وي او د اوبو د جذب وړتیا ونه لري. اوبه له لوړو ځایونو څخه ښکته ته بهېږي او د تیږو او نورو موادو سره یوځای، وېجاړوونکی ځواک لري چې ژر د مرګژوبلې او درنو زیانونو لامل ګرځي. همدارنګه، دغه ډول سېلابونه د بندونو، جهیلونو او نورو جوړښتونو د ماتېدو له امله هم رامنځته کېدای شي، چې ډېر خطرناک دي.

## ۴ په غرونو کې د بندونو، حوضونو او یخچالونو د ماتېدو له امله رامنځته کېدونکي سېلابونه:

دغه ډول سېلابونه عمدتاً د غرونو په لوړو ځایونو کې له واورو ډکو یخچالونو او حوضونو د ماتېدو له امله رامنځته کېږي. اوبه، واوره او تیږې ښکته راښویږي او د مرګژوبلې او سختو زیانونو لامل ګرځي.



## د سېلاب د خطرونو کمولو لارښوونې:

که تاسو په ټیټو سیمو، سېلاب راوتوونکو سیمو یا د اوبو کانالونو ته نږدې سیمو کې ژوند کوئ، نو باید پوه شئ چې سېلاب یو طبیعي پړاو دی او د درولو توان یې نه شته. له همدې امله، اړینه ده چې د سېلاب د خطر کمولو لارښوونې په پام کې ونیسئ او عملي یې کړئ.

## له سېلاب مخکې لارښوونې

### ودانیزې لارښوونې:

- د ودانیو د جوړولو لپاره د سېلاب له خطر څخه د خوندي سیمې ټاکل؛
- په سیلابي سیمو کې د مقاومت لرونکو ودانیو جوړول، په ځانګړي ډول د ودانیو د بنسټونو پیاوړي کول؛
- د ودانیو د ساتنې لپاره د سیلابي لارو، کانالونو او د اوبو د تېرېدو ویالو جوړول؛
- د سېلاب پروړاندې د ساتنې دیوالونو جوړول؛
- له ودانیو، کانالونو او ساتونکو دیوالونو څخه په منظم ډول مراقبت او ساتنه؛
- د سیلابي لارو د کنټرول لپاره له شګو ډکې کڅوړې درلودل؛
- د ونو په ریښو د ځمکې د قوي کېدو لپاره د ویالو، کانالونو او د اوبو د سرچینو دواړو غاړو ته د ونو کرل؛

# له سېلاب مخکې غیر ودانیزې لارښوونې:

**۱**



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ټولیزو او ټولنیزو رسنیو له لارې د هوا او بارانونو په اړه مخکېنۍ خبرداری په پام کې نیول؛

**۲**



د مرستې غوښتنې لپاره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اړوندو مهمو ادارو اړینو او بیړنیو ټیلیفون شمېرو درلود؛

**۳**




د سېلاب په وخت کې د پناه اخیستو لپاره په لوړو سیمو کې د خوندي ځای ټاکل او په پام کې نیول؛

**۴**



له لوړو سیمو سره د ټیټو سیمو اړیکه درلودل، څو د اوبو د کچې د زیاتوالي په صورت کې لازم خبرداری ورکړل شي؛

**۵**



د سېلاب له موسم څخه مخکې د ویالو، کانالونو او د اوبو د تېرېدو لارو پاکول او خنډونه ترې لرې کول، په ځانګړې توګه په ښاري سیمو کې؛

**۶**



مهم اسناد، نغدې پیسې، ګاڼې او قیمتي توکي په اوبو ضد پلاستیکي کڅوړو کې ځای پر ځای کول؛

**۷**




د اړینو درملو، خوړو او څښاک اوبو د زېرمې برابرول؛

**۸**





د اوبو د تصفیې وسایل درلودل، لکه کلورین او نور اړین تجهیزات؛

**۹**




د زیان‌منونکو کسانو په ځانګړې توګه د ماشومانو، سپین ږیرو او معلولینو کسانو د ایستلو لپاره ترتیبات په پام کې نیول؛

**۱۰**




د حیواناتو، څارویو او د خوندي ځایونو اړونده خوراکي توکو ایستل او لېږدول؛

**۱۱**



په سېلابي لارو او سېلاب راتوونکو سیمو کې د سېلاب د خطرونو په اړه د بورډونو او د خبرتیا ورکولو نښو لګول.

## د سېلاب رامنځته کېدو پر مهال لاربښوونې:




۱
د شته برېښنا او ګاز بندول؛



۲
د تخلیې او لوړو او خوندي ځایونو ته د تګ لپاره د چمتو کېدو په پار خبرداریو ته پاملرنه او د چاپېریال د وضعیت څارنه؛



۳
د لومړنیو مرستو صندوق، یو څه اندازه خوراکي توکي او اوبه، درمل، او د مهمو اسنادو او قیمتي توکو کڅوړو ته لاسرسی درلودل؛



۴
که د سېلاب د خطر کچه لوړه شي، سیمه خالي کول او ټاکل شوي خوندي ځای ته تګ؛



۵
که د سېلاب له امله وضعیت ډېر خراب شي، له مسؤلو ادارو سره اړیکه نیول او له هغوی د مرستې غوښتنه کول.

# له سېلاب وروسته لاربښووني:




د هغو حيواناتو مړي خښول چې د سېلاب له امله مړه شوي؛



د سېلاب له امله د ککړو سيمو پاکول؛



د څښاک او روغتيايي مصرف لپاره پاکې او تصفيه شوې اوبه کارول؛



که پاکې اوبه شتون ونه لري، اوبه تصفيه، کلورين کاري يا وايشل شي؛



د هغو خوړو او حبوباتو نه کارول چې د سېلاب په اوبو ککړ شوي وي؛



د سېلاب د ميکروبي اغېزو د له منځه وړلو لپاره د کلورين او ضدعفوني کوونکو توکو کارول؛

## د سېلاب له امله رامنځته کېدونکي ثانوي خطرونه چې بايد پام ورته وشي:



د ځمکې ښويېدو امکان؛



د خاورې کمزوري کېدل؛



د اوبو او خوراکي توکو د سرچينو ککړېدل؛



د وبا او نورو ناروغيو په څېر د توليزو ناروغيو (اپيدميک) خپرېدل؛



په ککړو سيمو کې د سېلاب له امله د ماينونو او چاودېدونکو توکو د ځای پر ځای کېدو له امله خطر؛

# افغانستان عاری از ماین؛ چالش‌ها و راهکارها

افغانستان یکی از کشورهای شدیداً متأثر از مواد منفجره (ماین‌ها، مهمات و مواد منفجره باقیمانده از جنگ) در جهان محسوب می‌شود. بیش از چهار دهه جنگ، منازعات داخلی و مداخلات خارجی سبب شده است که میلیون‌ها متر مربع زمین در مناطق مختلف کشور به مواد منفجره ملوث گردد. در پاسخ به این چالش، برنامه ماین‌پاکی افغانستان (MAPA) در سال ۱۹۸۹ میلادی با حمایت سازمان ملل متحد و همکاری نهادهای داخلی و بین‌المللی آغاز به فعالیت نمود.

در طول بیش از سه و نیم دهه گذشته، این برنامه به مثابه قدیمی‌ترین و یکی از موفق‌ترین برنامه‌های بشردوستانه ماین‌پاکی در جهان شناخته شده است. براساس آمارهای بانک معلوماتی ماین‌پاکی، از سال ۱۹۸۹ میلادی تاکنون بیشتر از ۴۵۰۰ کیلومتر مربع از کشتزارهای مواد منفجره که ۳۷،۰۱۲ ساحه خطر را احتوا می‌نمود، رهاسازی گردیده و ساحات موصوف پس از پاکسازی به مقاصد تعلیمی، صحی، زراعتی، تجارتی، رهایشی و انکشافی استفاده می‌گردد و مردم با خاطر آرام از آن‌ها منتفع می‌شوند.

در جریان بیشتر از سه و نیم دهه از عمر برنامه، به تعداد ۷۶۱،۰۷۸ عدد ماین ضد پرسونل، ۳۴،۳۲۸ عدد ماین ضد وسایط و ۱۹،۴۹۶،۴۷۴ قلم مهمات منفجرناشده کشف و نابود شده است. همچنان ۱۰،۹۲۴،۴۶۲ تن از شهروندان کشور از برنامه‌های آگاهی دهی خطرات ماین به شکل رسمی و بار نخست بهره‌مند گردیده‌اند. این دستاوردها سبب نجات جان هزاران نفر، توسعه اقتصادی مناطق روستایی و شهری و تسهیل بازگشت مهاجرین و بی‌جاشدگان داخلی شده است.

## وضعیت فعلی ساحات ملوث باقیمانده در کشور

با وجود پیشرفت‌های چشمگیر، افغانستان هنوز از جمله یکی از کشورهای دارای بیشترین ساحات ملوث به مواد منفجره (ماین و مهمات باقیمانده از جنگ ) محسوب می‌شود. براساس گزارش‌های اخیر، بیشتر از یک هزار کیلومتر مربع زمین در قالب ۴،۷۸۷ ساحه خطر هنوز ملوث به مواد منفجره می‌باشد.

ساحات ملوث ۱،۵۳۶ قریه و اجتماع محلی را متأثر ساخته، همچنان ۱۹۹ مرکز صحی و ۸۶۰ نهاد تعلیمی در ساحات خطر قرار دارد. این امر مانع استفاده مصوون از زمین به منظور توسعه زیربناها، گسترش زراعت و اجرای پروژه‌های انکشافی می‌گردد.

یکی از ویژگی‌های وضعیت فعلی، تغییر ماهیت آلودگی است. علاوه بر ماین‌های باقیمانده از جنگ‌های گذشته، افغانستان با حجم قابل توجهی از مهمات منفجرناشده، سرگلوله‌ها، راکت‌ها، بمب‌های هوایی و بقایای مواد انفجاری ناشی از درگیری‌های دو دهه اخیر نیز مواجه است. دسترسی به بسیاری از مناطق که در گذشته ناامن بودند، سبب شناسایی ساحات ملوث جدید شده است که قبلاً در بانک معلوماتی ماین‌پاکی ثبت نشده بودند.

از سوی دیگر، کاهش کمک‌های مالی بین‌المللی در سال‌های اخیر چالش جدی برای ادامه عملیات ماین‌پاکی به شمار می‌رود. محدود شدن منابع مالی باعث کاهش ظرفیت عملیاتی برخی مؤسسات ماین‌پاکی، کندی روند پاکسازی و تأخیر در تحقق اهداف بلندمدت شده است.





## تلفات ملکی ناشی از ماین و مهمات منفجر ناشده

اگرچه میزان تلفات نسبت به سال‌های گذشته کاهش یافته است، اما مواد منفجره هنوز از عوامل مهم تلفات ملکی در افغانستان محسوب می‌شوند. کودکان بیشترین قربانیان این حوادث را تشکیل می‌دهند. کنجکاوی کودکان نسبت به اشیای ناشناخته، بازی در مناطق ملوث و جمع‌آوری هیزم و آهن‌آلات از عوامل اصلی این تلفات است. در بسیاری از موارد، خانواده‌ها نیز از خطرات موجود در زمین های زراعتی، مسیرهای مواصلاتی و مناطق رهایشی آگاهی کافی ندارند.

همچنان گسترش فعالیت‌های اقتصادی، بازگشت مهاجرین و استفاده مجدد از زمین‌های متروکه سبب افزایش تماس و تعامل مردم با ساحات ملوث شده است. در نتیجه، نیاز به برنامه‌های گسترده آگاهی‌دهی و رهاسازی کشتزارهای ماین بیش از گذشته احساس می‌شود.

## راه‌های کاهش تلفات ملکی

برای کاهش تلفات ناشی از مواد ماین‌ها و مهمات منفجرناشده باقیمانده از جنگ، اقدامات ذیل ضروری به نظر می‌رسد:

**۱ استفاده از رسانه‌ها و فناوری‌های نوین:**
بهره‌گیری از شبکه‌های اجتماعی، پیامک‌های هشداردهنده، اعلانات تصویری شامل بیلبوردها، دیوارنگاری‌ها و برنامه‌های تلویزیونی و رادیویی به سطح کشور و محلی می‌تواند پیام‌های ایمنی را به مناطق دوردست انتقال دهد.

**۲ حمایت از قربانیان:**
توسعه خدمات صحی، توانبخشی فزیکی، حمایت روانی و برنامه های معیشتی برای قربانیان و خانواده‌های آنان ضروری است تا آنان به‌حیث عضو مفید اجتماع در جامعه ادغام گردند.

**۳ گسترش آموزش آگاهی از خطرات ماین:**
آموزش منظم و مستقیم توسط تیم های دو نفره برای کودکان و بزرگسالان در مکاتب، مساجد، کلینیک ها و شوراهای محلی می‌تواند سطح آگاهی مردم را افزایش دهد

**۴ تمرکز خاص بر کودکان:**
تهیه مواد آموزشی متناسب با سن کودکان و اجرای برنامه‌های آموزشی در مکاتب ابتدایی و دوره ثانوی نقش مهمی در کاهش حوادث دارد.

**۵ تقویت سیستم گزارش‌دهی مردمی:**
ایجاد میکانیزم‌های ساده برای گزارش ساحات مشکوک توسط مردم از طریق شماره ۲۴ ساعته عاجل ماین‌پاکی و ادارات امارتی محلی باعث تسریع در شناسایی خطرات می‌شود.

## راهکارهای تسریع رهاسازی ساحات ملوث باقیمانده

برای دستیابی به هدف افغانستان عاری از مواد منفجره، اتخاذ تدابیر مؤثر، پایدار و هماهنگ از اهمیت اساسی برخوردار است. در این راستا، اقدامات ذیل می‌تواند روند رهاسازی ساحات ملوث را تسریع نموده و زمینه تحقق اهداف تعیین‌شده در بخش ماین‌پاکی را فراهم سازد:

نخست: افزایش و تداوم حمایت مالی از سوی جامعه جهانی و نهادهای تمویل‌کننده بین‌المللی یک ضرورت اساسی است. با توجه به گستردگی کشتزارهای مواد منفجره ناشی از چندین دهه جنگ، دستیابی به اهداف ستراتیژیک اداره آمادگی مبارزه با حوادث بدون تأمین منابع مالی کافی با چالش‌های جدی مواجه خواهد بود. تداوم آلودگی اراضی کشور نه‌تنها مانع توسعه اقتصادی و اجتماعی می گردد، بلکه همچنان جان و سلامت شهروندان را تهدید نموده و همه‌ساله قربانیان جدیدی بر جای می‌گذارد.

دوم: اختصاص وجوه مالی از عواید داخلی از سوی امارت اسلامی افغانستان برای پاکسازی ساحات ملوث، تأمین مصوونیت شهروندان و رفع خطرات جانی و مالی ناشی از ماین‌ها و مهمات منفجرناشده، از مسئولیت‌های اساسی هر حکومت به شمار می‌رود. امارت اسلامی افغانستان تاکنون حمایت‌های ارزشمندی را از برنامه ماین‌پاکی به عمل آورده است؛ با این حال، تخصیص منابع مالی داخلی در کنار سایر حمایت‌ها می‌تواند بیانگر تعهد امارت اسلامی در قبال این مسئولیت مهم انسانی و انکشافی باشد. چنین حمایتی نقش مؤثری در تشویق نهادهای کمک‌کننده بین‌المللی دارد تا زمینه افزایش کمک‌های مالی آنان فراهم گردد.

سوم: استفاده از تکنالوژی‌های نوین، از جمله سیستم‌های پیشرفته سروی، طیاره‌های بدون سرنشین (درون)، سیستم‌های دیجیتلی مدیریت معلومات و تجهیزات مدرن کشف مواد منفجره، می‌تواند سرعت، دقت و مؤثریت عملیات ماین‌پاکی را به‌گونه چشمگیری افزایش دهد. بهره‌گیری از این فناوری‌ها ضمن کاهش زمان و هزینه عملیات، زمینه دستیابی به نتایج بهتر و پایدارتر را نیز فراهم می سازد.

چهارم: اولویت‌بندی ساحات ملوث بر اساس میزان خطر، تراکم نفوس، نیازهای اقتصادی، پروژه‌های زیربنایی و برنامه‌های انکشافی، سبب استفاده مؤثرتر از منابع موجود و تمرکز بیشتر بر ساحات دارای اولویت بلند خواهد شد. این رویکرد می‌تواند تأثیرات انسانی و اقتصادی عملیات ماین‌پاکی را به حداکثر برساند.

پنجم: تقویت هماهنگی میان ریاست انسجام و هماهنگی تطهیر ماین اداره آمادگی مبارزه با حوادث، با ادارات امارتی ذیربط، نهادهای غیرامارتی، مؤسسات تطبیق‌کننده پروژه‌های ماین‌پاکی، نهادهای ملل متحد و جوامع محلی، از عوامل کلیدی در تسریع روند شناسایی، اولویت‌بندی و رهاسازی ساحات ملوث محسوب می‌شود. هماهنگی مؤثر میان تمامی شرکای دخیل می‌تواند از تکرار فعالیت‌ها جلوگیری نموده و استفاده بهینه از منابع موجود را تضمین نماید.

ششم: ادغام برنامه ماین‌پاکی با پروژه‌های انکشافی، زراعتی، ترانسپورتی و مدیریت حوادث از اهمیت خاصی برخوردار است. تمامی نهادهای امارتی و غیرامارتی باید پیش از تطبیق پروژه‌های انکشافی، از وضعیت آلودگی ساحات مورد نظر اطمینان حاصل نمایند. با توجه به گستردگی و پراکندگی ساحات ملوث در نتیجه چندین دهه جنگ،احتمال موجودیت مواد منفجره، به‌خصوص مهمات منفجرناشده باقیمانده از جنگ،در بسیاری از مناطق کشور همچنان وجود دارد.

این رویکرد نه‌تنها خطرات احتمالی را کاهش می‌دهد، بلکه موجب می‌شود منافع حاصل از ماین‌پاکی به‌صورت مستقیم در توسعه پایدار، رشد اقتصادی و بهبود شرایط زندگی مردم منعکس گردد.

## نتیجه گیری

برنامه ماین‌پاکی افغانستان طی بیش از سی و پنج سال گذشته دستاوردهای چشمگیری در نجات جان انسان‌ها، آزادسازی ساحات ملوث و حمایت از توسعه و انکشاف کشور داشته است. با این حال، وجود هزاران ساحه ملوث باقیمانده و ادامه تلفات ملکی نشان می‌دهد که این مأموریت هنوز پایان نیافته است. کاهش منابع مالی، شناسایی ساحات جدید ملوث و نیازهای گسترده مردم در بخش ماین‌پاکی از مهم‌ترین چالش‌های کنونی به شمار می‌روند.

برای دستیابی به افغانستان عاری از مواد ماین و مهمات منفجرناشده باقیمانده از جنگ، لازم است؛ امارت اسلامی، مؤسسات داخلی و بین‌المللی، جامعه جهانی و مردم محلی همکاری نزدیک و پایدار داشته باشند.

تقویت آگاهی‌دهی، استفاده از فناوری‌های نوین، افزایش حمایت مالی و تسریع عملیات پاکسازی می‌تواند زمینه را برای کاهش چشمگیر تلفات ملکی و رهایی کامل ساحات باقیمانده فراهم سازد. در چنین صورتی، ماین‌پاکی نه‌تنها یک اقدام بشردوستانه، بلکه بخشی مهم از روند توسعه پایدار، امنیت انسانی و بازسازی افغانستان خواهد بود.

**سید کریم الله دانش**

آمر تحلیل و ارزیابی برنامه‌های ماین پاکی



خَیرُ النّاسِ مَن اَنفَعُهُم لِلنّاس

بهترین مردم کسی است
که برای مردم سودمندتر باشد.

# مجله
# مدیریت حوادث




برج شهرآرا، سرک شفاخانه ملالی، کابل- افغانستان

@ANDMA info@.andma.gov.af andma.gov.af